**<u>مطبوعاتي اعلامیه</u>**

## د چین په زندان کې د حزب التحریر د یوه غړي شهادت

(ژباړه)

له اسلام او مسلمانانو سره په سخته دښمنۍ کې د چین حکومت د ظلمونو او جنایتونو لېست ته یو بل جنایت هم ورزیات شو. د چین رژیم د ۲۰۲۳م کال، د نومبر په ۲۸مه، د حزب التحریر د غړي سید جهان محمد خانوویچ نودیروف د شهادت خبر ورکړ. سید جهان په ختیځ ترکستان کې زموږ د اویغوي ورونو په منځ کې فعال و چې د اعلای کلمة الله لپاره یې دعوت کاوه او د بیجینګ په زندان کې شهید شو. هغه د ۲۰۰۰م کال په دوبي کې د چین حکومت له لوري زنداني شو؛ خو محاکمه یې ۱۹ کاله وروسته واورول شوه. هغه شل کاله له خپلې ازادۍ محروم و او په دغې موده کې یې د زندان دغې مودې ته هیڅ پام ونه شو. دا په داسې حال کې ده چې ایغورۍ مېرمن یې تر اوسه د چین د ظالم دولت په یوه کمپ، چې د ظلم او شکنجې ځای دی، کې ده. د هغه خپلوان وایي چې سید جهان د خپل ژوند په وروستیو ورځو کې د بېجینګ زندان د روغتیایي درملنې په څانګه کې بستر و.

ټولو ته ښکاره ده چې چین له اسلام او مسلمانانو سره د دښمنۍ په برخه کې له یهودو سره هېڅ توپیر نه لري. په ختیځ ترکستان کې د مسلمانانو پر وړاندې په ډېر وحشیانه ظلم او ټولوژنه کې ښکیل دی. په ملیونونو مسلمانان یې د توقیف په کمپونو کې "چې د مغز مینځلو ښوونځي ورته وایي" ساتلي او د دوی پر وړاندې د شکنجې له وحشتناکو لارو چارو کار اخلي. دا چې چین پر مسلمانانو د برید جرات کوي، یوازینی لامل یې دا دی چې مسلمانان خلیفه نه لري چې ډال یې شي. په ازبکستان کې د میرضیایف حکومت د امت د بچیانو ساتنه نه کوي؛ بلکې د مسلمانانو پر وړاندې د جرمونو په ترسره کولو کې د چین حکومت ته ورته دی. همدا لامل دی چې د چین رژیم له کوم ځنډ پرته د مسلمانانو پر وړاندې د جنایتونو ترسره کولو ته دوام ورکوي.

د اسلام احیاء یوازې د الله سبحانه وتعالی په نصرت سره کیږي او د نصرت، فتحې او عزت دغه ونه زموږ د شهیدو ورونو؛ لکه سید جهان په وینو خړوبېږي، چې دغه سخت دعوت ته یې اوږې ورکړې دي. شهیدان د الله سبحانه وتعالی له لوري غوره شوي دي. په حقیقت کې دوی د الله سبحانه وتعالی غوره او نږدې بندګان دي. سره له دې چې د خپل ورور، سید جهان په وفات خواشیني یو، هغه ته مبارکي وایو؛ ځکه چې د هغه د ژوند په ښه خاتمه او شهادت پای ته ورسېد! الله سبحانه وتعالی فرمایي:

[مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُم مَّن قَضَىٰ نَحْبَهُ وَمِنْهُم مَّن يَنتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا] [احزاب: ۲۳]

**ژباړه:** *« په مومنانو کې داسې کسان شته چې له الله سبحانه وتعالی سره یې کړې ژمنه صادق او رښتینې ولاړ دي. ځینو خپلې ژمنې پوره کړې (د شهادت شربت یې څښلي) او یو شمېر نور په تمه دي او خپله ژمنه یې هېڅ وخت تغیر او تبدیل نه کړه.»*

له الله سبحانه وتعالی څخه غواړو چې زموږ ورور، سید جهان زموږ له نورو شهیدانو وروڼو سره په جنت کې یو ځای او له پیغمبرانو، صدقینو، شهیدانو او صالحینو سره حشر کړي. د الله سبحانه وتعالی له درباره د نوموړي کورنۍ او خپلوانو ته جمیل صبر غواړو. بېشکه چې راشده خلافت، چې د الله سبحانه وتعالی په حکم به ډېر ژر بیا تاسیس شي، به خامخا د چین له حکومت او نورو کفارو استعمارګرو څخه زموږ د مظلومو وروڼو او سید جهان په څېر شهیدانو غچ اخلي.

**«وَيَقُولُونَ مَتَى هَذَا الْفَتْحُ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ * قُلْ يَوْمَ الْفَتْحِ لَا يَنفَعُ الَّذِينَ كَفَرُوا إِيمَانُهُمْ وَلَا هُمْ يُنظَرُونَ»** [سجده: ۲۸-۲۹]

**ژباړه:** *«او دغه خلک وایي: «دغه فیصله به کله وي که تاسو رښتیني یاست؟» دوی ته ووایه: «د فیصلې په ورځ به ایمان راوړل د هغو خلکو لپاره هېڅ ګټور نه وي چې کافران شوي دي او بیا به هغو ته کوم مهلت ورنکړل شي.»*

**په ازبکستان کې د حزب التحریر مطبوعاتي دفتر**

۱۴۴۵ هـ.ق کال، د جمادي الثاني ۱۱مه

۲۰۲۳م کال، د ډسمبر ۲۸مه

د صدور ګڼه: ۱۴۴۵ / ۰۷

ژباړن: محمد حامد